ان الله لا یغیر ما بقوم حتی یغیرو ما بانفسهم
الایه
صدق الله العظیم

په تحقیق سره لوی خدای جل جلاله یوه قوم کې تغیر نه راولي تر څو دوی پخپلو ځانو کې د تغیر اراده ونکړي

بسم الله الرحمن الرحیم
الله اکبر

# افغان ملت

ملي جریده

افغانستان ټولنپال ولسواک ګوند

Afghanistan Social Democratic Party

د افغانستان ټولنپال ولسواک ګوند خپرونکی ارګان

د افغان ملت غږ !

مونږ په خپل تاریخي هیواد
کې د یو ملي، خپلواک، بې
طرفه، په خپلو پښو ولاړ او
سرلوړي افغانستان
غوښتونکي یو

Publication of the Afghanistan Social Democratic Party- February 2014 د دریمي دوری ۷ مه ګڼه د ۲۰۱۴ میلادي کال د فبروری میاشت د۱۳۹۲ لمریز کال د سلواغې میاشت

## دافغان ملت ملي مترقي ګوند یو لوړپوړي پلاوي ولسمشریزو ټولټاکنو ته نوماند ښاغلي ډاکټر اشرف غني احمد زي سره وکتل



د افغان ملت ملي مترقي ګوند پلاوی د ډاکټر اشرف غني احمدزي سره

د افغان ملت (ملي مترقي) ګوند یو لوړ پوړي پلاوي د دیپلوم انجینیر اجمل شمس په مشرۍ ولسمشریزو ټولټاکنو ته نوماند ښاغلي ډاکټر اشرف غني احمد زي سره د روان لمریز کال د مرغومې په ۱۹ مه لیدنه وکړه. دغه پلاوي کې د ګوند د عالي شورا د غړو برسیره د ګوند د بیلا بیلو ولسوالیو نمایندګانو هم ګډون درلود.

پاتې ۴ مخ

## دافغانستان ا و امریکې تر منځ امنیتی تړون

دیپلوم انجینیر اجمل شمس

دوه میاشتې وړاندې مشورتي لوئې جرګې چې نږدې دوه نیم زره غړي یې درلودل د افغانستان او امریکی ترمنځ امنیتی تړون باندې د مفصل بحث نه وروسته خپل نظریات ولسمشر کرزی ته وړاندې کړل. د لوئې جرګې مهمه پایله دا وه چې تړون د تائید وړ وګرځید او د ولسمشر نه غوښتنه وشوه چې لاسلیک ئې کړي. خو ولسمشر تر هغې چې غوښتنې ئې نه وي منل شوي ددی سند د لاسلیک کولو نه انکار کړی دی او تر دې دمه پخپل دریځ ولاړ دي. دا غوښتنې د امریکی لخوا د سولې راوستل، د افغانانو په کورونو باندی د امریکائي قواو لخوا د حملو مکمل بندیز او د شفافو انتخاباتو ضمانت دي.

پاتې ۴ مخ

## د افغان ملت ګوند مبارز ورور محمد افغان اباسین په حق ورسید

د افغان ملت ملي مترقي ګوند د عالي شورا غړي او سابقه دار او مبارز ملګري محمد افغان اباسین د روان ۱۳۹۲ لمریز کال د مرغومې په لسمه د فاني نړۍ نه سترګې پټې کړې. انا لله و انا الیه راجعون.



ارواښاد محمد افغان اباسین د کنړ ولایت د پشد په سیمه کې په یوه متدینه او دینداره کورنۍ کې زیږیدلی وو او خپلې ابتدایي زدکړې یې هم هلته سرته رسولې وې. بیا کابل ته راغی او دلیسې د فراغت نه وروسته یې په ژورنالیزم او اقتصاد کې د لیسانس سند ترلاسه کړ. زیات وخت یې په هیواد ورځپانه کې د مسلکي ژورنالیست په صفت وظیفه اجرا کړه

پاتې ۲ مخ

## خطوط اساسی حزب ملی و مترقی افغان ملت

وصلی خان ملاخیل

حزب ملي ومترقي افغان ملت از روز تاسیس شان به تحکیم وحدت ملي معتقد میباشد . به پشتیباني همه اقوام کشور مبارزه خویش علیه اشخاص و عناصر ضد منافع ملي و دشمنان وحدت ملي به پیش برده و هیچگاه از ین مسیر روشن وخط مشی انحراف نکرده .

بقیه صفح ۳

## استاد صدیق پسرلي هم د دنیا نه کوچ وکړ



د پښتو ادب ځلانده ستوري ملي شاعر، ادیب او د پښتو ادب ریښتوني خدمتګار استاد محمد صدیق پسرلي دروان لمریز کال د مرغومې په ۲۳ مه د وریپښې ناروغۍ له امله د دې فاني نړۍ نه سترګې پټې کړې.

انا لله و انا الیه راجعون.

پاتې ۲ مخ

## د پښتونولۍ فلسفه

ولی حداد فرهاد

کله چې یو ناروغ ته داسې وینه تیریږي چې د ناروغ د وینې د ګروپ سره سمون ونه خوري نو وجود ئې نه قبلوي نو په داسې حالت کې د ګټې پرځای تاوان کوي. همدا حالت د مفکورې او یا نظام هم دی. کله چې یوه خارجي مفکوره او یا نظام په یو ملت باندې په زوره تپل کیږي نو ملت ئې په هیڅ صورت نه قبلوی. ترڅو افغانانو د خپل سرنوشت واګې په خپل لاس کې نه وي اخیستې هیڅکله د بریالیتوب په لور نشي تلای.

پاتې ۳ مخ

## سر لیکنه

### راتلونکي ولسمشریزې ټولټاکنې او د ملت مسؤولیت

ټاکل شوې چې ولسمشریزې ټولټاکنې به د راتلونکي لمریز کال د حمل په میاشت کې تر سره شي. دا ځل ټاکنې د تیرو ټاکنو نه ډیر توپیر لري. سیاسي او امنیتي چاپیریال د پخوا په پرتله ډیر مغلق او د ستونزو نه ډک دی. ټاکنې په داسې محال کې ترسره کیږي چې نړیوال نظامي قوتونه د وتو په حال کې دي او امریکې سره د امنیتي ترون سرنوشت لاتر اوسه څرګند نه دی. د ټاکنو تر محاله ددې ترون لاسلیک کیدل یا نه لاسلیک کیدل به د هیواد د سیاسی او امنیتی وضعیت له نقطه نظر نه په ټاکنو خپل اغیز ولری.

د دې ټاکنو بله ځانګړتیا پدې کې ده چې د ولسمشر کرزي د قدرت موده به پای ته رسیږي او نوی شخص به د افغانستان د ولسمشر په توګه میدان ته راوځي. دا به د هیواد په تاریخ کې اول ځل وي چې په مسالمت آمیزه توګه او دیموکراتیک ډول د یو ولسمشر نه قدرت بل ولسمشر ته انتقال شي. د ولسمشرۍ لپاره لس نوماندان دي. ټول د احترام وړ دي خو یو تعداد ئې په سیاسي او ولسي کچه تر نورو زیات مطرح دي . ټول هیوادوال د نوي مشرتابه په ټاکلو کې خپله ونډه لري . هر افغان سیاسي، انفرادي ، ملي او اخلاقي مسؤلیت لري تر څو د هیواد د سیاسي برخلیک په ټاکلو کې خپل نقش ولوبوي.
باید ومنو چې د افغانستان راتلونکی تر ډیره حده د نوي مشرتابه د مشروعیت، لیاقت، کفایت او اهلیت پورې اړه لري.دهیواد ولسمشر په ټولو امورو کې د اجرا ئیوی واک په لرلو سره کولی شی هیواد ته په سیاسی، اقتصادی او اجتماعی لحاظ داسی مسیر ورکړي ترڅو افغانستان د روان بحران څخه ووځی او د سولې، ثبات او نیکمرغۍ په لور حرکت وکړي.

تیرو دولس کلونو کې د افغانستان سیاسي او امنیتي وضع د راتلونکو کلونو نه ډیر توپیر لري. په تیرو کلونو د هیواد د مشرتابه زیات ټینګار پدې باندې وو چې دبحرانونو مخه ونیول شي خو د نظام د جوړښت لپاره بنسټیزګامونه پورته نه کړای شول.تر یوه حده یو څه پرمختګ وشو چې د نړیوالو مرستو د حجم په پرتله کفایت نه کوی. د افغانستان راتلونکی به هم تر ډیره وخته، د ستونزو او ننګونو نه ډک وي . که سالم قیادت رامنځ ته شوا یوه باکفایته اداره ئی راوسته او د مصلحتي سیاست پر ځای ئې په بنسټیزه توګه د هیواد اساسي ستونزې تشخیص کړای شوې او ورته یې د حل معقولې لیارې پیدا کړې نو دا به د ټول افغان ملت لپاره د نجات زیری وي.

پدی حساس پړاو کې د ټولو افغانانو دینی، ملی ، سیاسی او اخلاقی وجیبه ده ترڅو د هیواد د راتلونکی زعامت په انتخاب کې د خورا دقت نه کار واخلی ترڅو نه خپل خدای ، نه ملت او نه خپل وجدان ته ملامته وسو.
راځئ چې داسې چا ته رایه ورکړو چې دهیواد د بیا رغونې لپاره مشخصه ، ټاکلې او هر اړخیزه برنامه ولري.ټول ملت پرې راټول شي . قومی ، ژبنی او سمتي نه بلکه ملی فکر ولري.
که د لوی خدای په مرسته وتوانیدو چې داسی قیادت ته مو فرصت ورکړنو دابه د هیڅ ماته نه بلکه د ټول ملت بریا وی.

# د افغانستان او پاکستان اړیکو ته نوې کتنه

سیف الرحمن لودین

په پاکستان کې د ښاغلي نوازشریف واک ته رسیدل د افغانستان او پاکستان په اړیکو څه اغیز ولري یوه داسې موضوع ده چې بیلا بیل تحلیلونه او تعبیرونه په دې اړه وجود لري. ولسمشر کرزي نږدې پینځه میاشتې وړاندې پاکستان ته یو رسمي سفر درلود . دوه میاشتې وړاندې بیا د پاکستان لومړي وزیر ښاغلي نواز شریف په واک کې تر راتلو وروسته په لومړي ځل کابل ته یو ورځنی سفر درلود .

داچې د دواړو هیوادونو د مشرانو سفرونه او ورسره مل دیپلوماتیکې هڅې به څه پایلې ولري دا به وخت څرګندې کړي خو په دې اړه افغانان ترخې تجربې هم لري.

د ښاغلي نواز شریف افغانستان ته سفر په داسې مهال کې تر سره شو چې د افغانستان او امریکې ترمنځ د امنیتی ترون په لاسلیک خبری اتری روانی وي .مخکې ددی چې ښاغلي نواز شریف کابل ته سفر وکړی ددی څخه یوه ورځ وړاندی جنرال راحیل شریف د جنرال کیانی پر ځای د پاکستان د فوځ د مشر په توګه وټاکل شو. د افغانستان په اړه د پاکستان په پالیسی د دې هیواد د پوځي چارواکو اغیز د چا نه پټ نه دی. د ا چې ښاغلي نواز شریف به تر کومه حده وکولی شي د افغانستان په اړه دخپل هیواد دریځ د سیاسي حکومت په ولقه کې راولي دا یوه ستره پوښتنه ده.

د ښاغلي نواز شریف دا سفر یو څه ځانګړتیاوې درلودې . د نوموړي د خبرو څخه خو داسې بریښي چې دا ځل د پاکستان حکومت غواړي یو بیل پیغام ولري. د خپل سفر څخه یوه ورځ وړاندې په پاکستان کې په یو پروګرام کې یې ویلي وو چې ګاونډیان هیڅکله نشی بدلیدای مونږ باید خپلو ګاونډیانو سره ښې اړیکې ولرو. د خپل سفر پر مهال یې افغان ولسمشر او نورو لوړپوړیو افغان چارو واکو ته ډیره حده ته ډاډ ورکړو چې پاکستان به د افغانستان د سولې د بهیر په لیار کې خپل ممکن مرسته او زمینه سازي وکړي.

افغان حکومت په دې باور دی چې د سولې پروسې بریالیتوب پرته د پاکستان د حکومت د رښتینې مرستې نه ممکن نه دی. د ښاغلی شریف دا خبره هم د توجه وړ ده چې وایې پاکستان په افغانستان کې د هیڅ یو ډلې ملاتړ نه کوي بلکې پاکستان د افغانستان د خلکو ملاتړ کوی او د دی تر څنګ ئی د نړی په نورو هیوادونو هم غږ وکړ چې د افغانستان د ثبات لپاره خپلو هڅوته دوام ورکړي.

د افغان حکومت په غوښتنه د طالبانو یو مهم مشر ملا عبدالغنی برادر د زندان څخه خوشې کړاي شوی دی. دا چې دغه ګام به د سولې په بهیر څومره اغیزمن وي معلومه نه ده.

د پاکستان مدني ټولنه ، د سیاسي احزابو مشران او د دې هیواد رسنۍ هم د یو موډې نه د پاکستان دریځ د افغانستان په اړه د انتقاد لاندې نیولی دی. د پاکستان له اړخه په افغانستان کې د سترتتیژیک عمق دریځ پخپله د پاکستان امنیت هم د ګواښ سره مخامخ کړی دی. د دواړو هیوادونو ولسونه سولې او مثبتو اړیکو ته لیواله دي . دا اوس د دواړو هیوادونو د سیاسي مشرتابه پورې اړه لري چې څومره کولی شی دا په واقعیت بدل کړي.

**پاتې: استاد صدیق پسرلی.........................**

اروانباد استاد پسرلی په کابل کې ښاورو ته وسپارل شو او عمومي فاتحه یې د عیدګاه په جومات کې واخیستل شوه . همدا راز د استاد فاتحې د هیواد په بیلابیلو برخو او په نورو هیوادونو کې هم اخیستل شوې دي .

افغان ملت ملي مترقي ګوند چې تل یې د ملي شخصیتونو پالل خپل مسوولیت ګڼلی پدې دروند غم کې ځان شریک بولي . د لر او بر ټول پښتنانه به د اروانباد استاد پسرلي ادبي خدمات او شاهکارونه هیڅکله هیر نکړي. د استاد پسرلي کورنۍ ته تسلیت مراتب وړاندي کوو . خدای دي ورته صبر جمیل او مرحوم ته جنت فردوس ورپه برخه کړي .

**پاتې: محمد افغان اباسین ...........……......**

د ثور د کودتا نه وروسته پیښور ته مهاجر شو او د مهاجرت په سختو او تنګو شیبو کې یې هم چا ته سر ټیټ نه کړ . د اروانباد شمس الهدا شمس تر مشرۍ لاندې یې د افغان ملت ګوند په چوکاټ کې خپلې سپیڅلې مبارزې ته دوام ورکړ . د اروانباد شمس د ډیرو نږدې ملګرو څخه وو او د افغان ملت جریدې په چارو کې یې فعاله ونډه درلوده . اروانباد محمد افغان اباسین یو تکړه لیکوال ، شاعر او سپیڅلی فرهنګي شخصیت وو. زیاتي لیکنې یې په افغان ملت جریده او د هیواد په نورو رسنیو کې نشر شوي دي . د اروانباد قدرت الله حداد کتاب (افغان ملي تاریخ ) په اهتمام کې یې زیاته ونډه درلوده . اوانباد اباسین زیاتې لیکنې د نشنلیزم او د ملي سیاست فلسفې په اړه لیکلې دي . اباسین صاحب د علامه قیام الدین خادم سره ډیر نږدې پاتې شوی وو او همیشه به یې د خادم صیب یادونه کوله .
اروانباد محمد افغان اباسین په افغان فرهنګیانو او لیکوالو کې ښه نوم او ځانګړی ځای درلود . افغان ملت ملي مترقي ګوند د اروانباد محمد افغان اباسین مړینه ستره ضایعه بولي . خدای دې مرحوم اباسین صیب ته جنت فردوس ور په برخه کړي او غمجنې کورنۍ ته دې جمیل صبر ورکړي .

# د ملک شیر خان بریمي په یاد

**میرزمان جبارخیل**



کوکران په گُوگُوسر، د ترنک شورلاړ
بریمي هم خړوخاورته دګورلاړ

که څه هم دی د لوګر د ولایت وو
خیال مې ولې، د میرویس نیکه ترکورلاړ؟

دې ملي شاعر ملي احساس لرلو
په ارمان د ازادۍ د خپلې مورلاړ

څوبیتونه یې د نظم خیال ته راغلل
هدفمند لوی مبارز هغه غمخورلاړ

ستانکزي یې چې له مړینې نه خبر کړم
تیره غشی مې رسا د زړه په لورلاړ

روڼ مشال وو د میرویس نیکه د فکر
لوی طوفان د حوادثو کې په اورلاړ

(فدایي) د غمرازۍ اوښکې پرې توی کړې
د (فرهاد) د اصلي خط دا ګوندي ورورلاړ

په افسوس خپل احساسات (وفا) څرګند کړل
یو شخصیت لاړ، هسې نه چې کوم مفت خورلاړ

جبارخیله د (شیرخان) روح چې پرې خوښ وي
هرغلیم یې، له ټاټوبي نه مختورلاړ

# عشق وطن

**هما حداد فرهاد**

یک عمرست که فغان و ناله کنم    اندیشه تاریخ پنج هزار ساله کنم
حس وطنپرستی برفت ز افغان
قلم بیار که این وطن را به تو قباله کنم
تانباشد زملال و میوندش خبر    به بی خبری جوانان خود گریه کنم
قلم بیار که این وطن را به تو قباله کنم
چه شد هنگامه پانی پت و تور بابا یت    به دهلی و اصفهانت گریه کنم
قلم بیار که این وطن را به تو قباله کنم

## بقیه : خطوط اساسی حزب ملی مترقی..................

افغان ملتي ها در طول پینجا ه سال برای منافع ملي ، دفاع از موقف ملي در رابطه به حدود تاریخي کشور وتحکیم وحدت ملي به مبارزه مسالمیت آ میز ادامه داده اند که تمام هموطنان شاهد همچو واقعیت میباشند.

شعار حزب ملي ومترقي افغان ملت عبارت از خدا ، وطن و ملت میباشد . این شعار اساس مرام ما و بیانگر منشور ما میباشد . در پرتو این شعار حزب افغان ملت در چاچوب پنج اصول اساسي مقدسات ملي ، اقتصاد ملی ، فرهنگ ملی ، تاریخ ملی و احساس مشترک دفاع از منافع ملی مبارزه خویش ادامه میدهد.

وطن ما کشور تاریخي افغانستان است وملت ما عبارت ازهمه اقوامی است که در این کشور تاریخي افغانستان زنده گی مېکند و تابعیت این کشور را دارند . حزب افغان ملت به این عقیده است که همه اقوام عزېز کشور از حقوق مساوی برخوردار اند و هېچ ېک قوم به قوم دېگری برتری ندارد . ولی باېد متوجه باشېم که موازي به حقوق تمام اقوام افغانستان در مقابل وطن و ملت وجاېب و مسؤلېت ها نېز دارند . کساېکه تنها از حقوق خوېش تذکر مېکنند و درمقابل وجاېب ملی هیچ نوع مسؤلېت نمیپزیرند در واقعی از خاینین بشمار میروند . لذا پروپاګند های که در مقابل حزب افغان ملت از جانب مخالفین صورت میګیرند که این حزب فقط از حقوق پشتونها دفاع میکند بی بنیاد میباشند . فلسفه وحدت ملي حزب افغان ملت در شعر ذیل از شهید استاد سید یوسف میرنی به شکل جامع تذکر یافته :

دلته هر څوک چې اوسیږي بس افغان دی
تور او سپین پیدا کول ملي تاوان دی

ګران هیواد به په ملي وحدت جوړیږي
دا مو ټینګه عقیده دا مو ایمان دی

حزب ملی مترقی افغان ملت همِشه برای تحقق اهداف اسلامی و ملـی خویش و برای اوردن یک نظام سالم در کشورکه به عدالت اجتماعی استوار باشد مبارزه را در شرایط بسیار ضیق و سخترین به پِیش برده است . این حزب مخالف شدید ترین هرگونه تبعیض نژادي ،مذهبي ، قومي ، لساني و سمتي میباشد .

یکی از چالشهای که کشور ما با آن روبرو است صدا ها از بعضي از جوانب در ارتباط به تغیر نظام مرکزی به طرف فدرالی است . حزب افغان ملت مخالف مفکوره فدرالیزم میباشد . همچو یک نظام دولتي در واقع یک گام بسوی متضرر ساختن وحدت ملی وتمامیت ارضی ما میباشد. ما به این عقیده هستیم که مشکل افغانستان نبود حاکمیت قانون و حکومتداری نا سالم است نه نظام مرکزي .

حزب ملي ومترقي افغان ملت معتقد است که همه اقوام ملت بزرگ افغان در مقابل دشمنان ملت چی داخلی و چی خارجی باهم متفق ، متحد وهماهنگ خواهد شد وبه همچو دسایس اشخاص بیگانه پرست شکست خواهد داد تا هم وطنان ما در کشور عزیز به صلح ، آرامی زندگي پر سکون و آبرمندانه به میان اید و ملت ستمدیده ورنجدیده افغانها ازقتل وقتال واسارت بیگانگان نجات یابد .

خدا (ج) درقرآن عظیم الشان فرمودند که تفرقه نکنید . بیا ئید یکجا شویم یکي به دیگر دست بیدهیم تا وحد ت ملي ما به شکل واقعي قایم شود وملت جنگزده وستم دیده به سوی صلح و رفاع برود و صلح بدون وحدت ملي امکان پذیر نیست . از طریق وحدت ملي صلح درکشور حتمي است و وحدت ملي ضامن صلح درکشور میباشد .

## پاتې: پښتونولي..................................

د انګریزي یو متل دی چې واښه تل بل طرف ته ډیر شنه بریښي. همدا حال د ډیموکراسۍ هم دی . هغه ډیموکراسي چې په غرب کې کار کوي شاید دلته موافقه ونه اوسي . د غرب دیموکراسي د غربي فرهنګ او تمدن سره سمه ده خو د افغانستان دشرایطو سره نه. داهم باید هیر نکړو چې د غرب خلک هم ډیرو لانجو او اجتماعي ستونزو سره مخامخ دي. لکه د نشئ توکو سره د عادي کیدومسئله، رواني فشار او داسې نور.

افغانستان لپاره یوه افغاني ماډل ډیموکراسي اړینه ده کومه چې ددې وطن په شرایطو برابره وي . دلته زه غواړم په پښتونولۍ باندی بحث وکړم .ځینې اشخاص شاید دا نیوکه وکړي چې مونږ په یوویشتمه پیړۍ کې ژوند کوو نو آیا پښتونولي کومه معنی لري . زما په اند د وخت په تیریدواصول نه بدلیږي . د مثال په ډول کمپیوتر، رادیو، تلویزیون او انټرنیټ د اړیکو نیولو او د معلوماتو د شریکولو لپاره اسانتیاوې برابرې کړي خو هدف بیا هم په خپل ځای پاتې دی دا ټولې وسیلې دي.

اوس راځم اصلي مسلې ته چې هدف مې پښتونولي دی . پښتونولي پخپله یو قانون دی چې د مشرانو د ټاکلو، جرګو جوړولو او د شخړو د حل لپاره خپلې لیارې لري. ددې لیارو په وسیله په محلي او ملي کچه مونږ مسلې او ستونزې هوارې کړي دي.همدا افغاني ماډل دیموکراسي ده. همدې اصل نه په غرب کې هم استفاده کیږي مثلاً په امریکه کې دګانګریس غړي د آیالاتو په نمایندګۍ د ټاکلي وخت لپاره انتخابیږي.

پښتونولي یو نالیکلی قانون دی. زه غواړم د خپل کاکا د زوی یوه جالبه قیصه تاسې ته وړاندې کړم. د ۱۳۸۰ کلونو په اوایلو کې هغه چون د کمونیست رژیم سره مخالف وو نو غوښتل ئی افغانستان پریږدي او پښتونخوا ته لاړ شي. هغه ورځو کې دا اوه ورځې سفر وؤ. د پکتیا غرونو ته چې د خپلو نورو ملګرو سره یو ځای ورسید نو هلته یو څه کیږدۍ په نظر ورغلې. چې نږدې ورغلل نو هلته ترینه میرمنو پوښتنه وکړه چې آیا تاسی د عسکرۍ نه وطن پریږدۍ او دوی ورته وویل چې هو . بیا هغیو میرمنو دوي ته ډوډۍ او نور د ضرورت شیان ورکړل او ورته ئی وویل چې سړي ئی جهاد ته تللي دي او دوی ځان ته دي. بیا یوه میرمن ټوپک په لاس د کیږدۍ نه راووتله او دوی ته ئی لارښوونه وکړه او دوی ئی داسې مناسب ځای ته ورسول او ورته ئی وویل چې دا زمونږ مسئوولیت دی چې تاسې زمونږ ځای څخه په حفاظت کې لاړشۍ . ددوی دغه رویه او عمل د ښو اخلاقو، میړانې او میلمه پالنې ښکارندوی دی اوهیڅ مثال نلري . همدې ته پښتونولي وایو . له بده مرغه ددې درونډ او تاریخی ارزښت له منځه وړلو هڅې روانې دي . راځۍ دا ډول هڅې شنډې کړو او خپله پښتونولي وژغورو .

## افغان ملت ملي مترقي ګوند د خبریال ویبپاڼې په ژورنالیست برید غندي

په دې نږدیو کې د خبریال ویب پاڼې پر همکار ښاغلي زلمي حلیمي باندې په زابل کې د چارواکو لخوا برید وشو . د افغان ملت ملي مترقي ګوند دا عمل په کلکه غندي .

د افغان ملت ملي مترقي ګوند په نظر خبریال ویب پاڼه د تیرو څو کلونو راهیڅې د ژورنالیزم له لیارې د افغانانو په خدمت بوخت ده چې نه یواځې عامه ذهنونه د واقعیتونو نه خبروي بلکه د اصیل اسلامي او افغاني کلتور د ساتنې او پرمختګ لپاره هم هر اړخیزه مبارزه کوي . د خبري تیکنالوجۍ پدې دور کې دغه ویب پاڼه خپل تاریخي رسالت په پوره صداقت پر مخ بیایي او د دنیا په هر ګوټ کې افغانان د هیواد ، سیمې او نړۍ د واقعاتو او حالاتو نه خبروي . د خبرونو تر څنګ په زړه پورې مقالې او مطالب هم نشروي چې د ازاد صحافت او د بیان د ازادي ښکارندوی ده . رسنۍ مسلکي او اخلاقي مسولیت لري تر څو د فساد پر ضد په مبارزه کې خپل مشخص نقش ولوبوي . پدې اساس هیچا ته دا حق نشته چې د ازادو رسنیو په خبریالانو باندې لاس اوچت کړي او یا یې د تهدید لاندې راولي . داسې عمل غیر جمهوری او غیر اخلاقي دی .

د افغان ملت ملي مترقي ګوند خبریال ویب پاڼې سره د خپل پوره سیاسي او اخلاقي حمایت ژمنه کوي او مبارزژورنالیست زلمي حلیمي باندې برید په کلکه غندي او هیله لري چې داسې ناروا عمل بیا تکرار نشی .



د ډاکټر اشرف غني احمدزي سره د افغان ملت ملي مترقي ګوند د پلاوی د ملاقات یو انځور

## پاتې: د افغانستان او امریکې امنیتي تړون ......................................................

دا چې دواړه خواوې په خپلو دریځونو کلک ولاړ دي داسې بریښي چې دا مسله ځای په ځای پاتې ده.

د امنیتي تړون په اړه د مشورتي لوئي جرګې راغونډتل که څه هم پرځای ګام وو تر څو په داسې اړینه ملي مسله د ملت د استازو نه پوښتنه وشي او هغوی په اعتماد کې واخیستل شي خو د قانون اساسی لخوا کوم مکلفیت نه وو. ولسمشر کرزی د تیرو ۱۳ کلو راهیسې په قدرت کې دی اود امریکې او ناټو مرسته ورسره ده . داسې بریښي چې ولسمشر غواړي د خپل اقتدار نه وروسته په تاریخ کې د داسې یو رهبر په توګه یاد شي چې د دنیا د زبر ځواک په مقابل کې ئې مقاومت وکړ او ورته تسلیم نه شو. بله دا چې ولسمشر غواړي د خپل حکومت نه وروسته هم په افغان سیاست کې خپل نقش ولري.

دلوئې جرګې نه یو څوهفتې وړاندې ولسمشر کرزی په ډاګه کړې وه چې دی به په دې خوښ اوسي چې دا تړون دې نه بلکې راتلونکی ولسمشر لاسلیک کړي. شاید د خپل ځان په اړه به داسې تصور کوي چې د افغانستان تاریخ به بیا دده په اړه داسې قضاوت وکړي چې دې یو داسې شخص وو چې د خپل هیواد ملی حاکمت ئې وژغوره خو وروسته بل ولسمشر بیا دا کار ونکړای شو.

که ولسمشر په رښتیا د امنیتي تړون په سر خپله نیکنامي لټوي نو دا به په افغانانو کې دده په اړه قضاوت باندې دومره اغیزمن او نه اوسي . ولسمشر کرزی د نړیوال مصلحت په نتیجه کې قدرت ته ورسید او په سیاسي لحاظ مطرح شو که څه هم دوه واری افغانانو د ازادو ټاکنو له لارې د ولسمشر په توګه انتخاب کړ.

افغانستان تر ډیره حده د امریکې په نظامی او مالی مرستو انحصار لری .داسې تشویشونه شته چې که دا تړون لاسلیک نشی نو د امریکې او ناټو لخوا د کال ۴ ملیارده ډالرو مرستې ژمنه به هم د خطر سره مخامخ شي.

که چیرې امریکه د افغانستان سره د مرستو نه په شاشوه نو د ناټو هیوادونه به هم دا کار وکړی. ایا افغانستان خپل ملی امنیتي ځواکونه د ملی عوایدو له لیاری تمویلولو توان لري ؟ د افغانستان سیاسي قیادت باید دې اساسي پوښتنې ته منطقي او په واقعیتونو ولاړ ځواب ووائي چې د تړون نه لاسلیک کول به زمونږ ملی حاکمیت ته څومره ګټه ورسوي ؟

د ولسمشر کرزي بعضې اندیښنې په ځای هم دي چې هم داخلي او هم خارجي اړخونه لری. د مثال په ډول هغه به دا اندیښنه لري چې د دې تړون له کبله چې افغانان د ستونزو سره مخامخ کیږي نو د انتقاد ګوته به همده ته نیول کیږي. بله دا چې د تړون د لاسلیک په صورت کې به زموږ د غربي او جنوبي ګاونډیانو لخوا د مداخلت شدت نور هم زیات شي.

په تیرو څو کلونو کې دامریکی لخوا قوي سیاسي ډیپلوماسي. شاید د پاکستان ځینې اندیښنې لرې کړې وي . بل طرف ته ایران سره هم امریکه تر ډیره حده د اتمی پروګرام په سر یو څه موافقی ته رسیدلی ده. د امریکې د منطقوی سیاست دا راز سیاسي تحرکات باید د ژورې څیړنې لاندې ونیول شي تر څو یوې منطقي نتیجې ته ورسیږو.

باید ومنو چې موجوده اداره د دولتی نهادونو او د نظام په جوړښت کې پاتې راغلې خو باید هیر نکړو چې د ملی وحدت د ټینګښت او په هیواد کې د سولې او ثبات راوستلو لپاره ولسمشر هڅې کړې دی. دا ښه وی چې امریکه پر ځای ددې چې د فشار نه کار واخلی د امنیتي تړون په شرایطو د افغان حکومت سره خپلو مذاکراتو ته دوام ورکړي .همدا راز د ولسمشر کرزي نه به هم د ټول افغان ملت هیله دا وي چې پدی اړه داسې لاره خپله کړي چې د ټول ملت په خیر او آبرو باندی تمامه شي او زمونږ واقعی ملي ګټې پکې خوندي وساتل شي.

## پاتې: ډاکټر اشرف غني احمد زي ...................

د افغان ملت ملي مترقي ګوند پلاوي ډاکټر اشرف غني سره د راتلونکو ټولټاکنو په اهمیت خبرې وکړې او د ا ټاکنې یې د هیواد د راتلونکي لپاره سرنوشت سازې وبللې. د ګوند پلاوي د ښاغلي ډاکټر اشرف غني احمد زي تر رهبری لاندې په موفقانه توګه د امنیتي مسؤولیتونو د انتقال د بهیر بشپړ کیدل لویه بریا وبلله چې د ملي حاکمیت په لور بنسټیز ګام وو او راتلونکو ټولټاکنو ته یې زمینه مساعده کړه.

ښاغلي انجینیر اجمل شمس ووئیل د هیواد راتلونکي کلونه د تیرې لسیزې نه ډیر توپیر لري او افغانان باید داسې قیادت رامنځ ته کړي چې هیواد د سولې ، ثبات او نیکمرغی په لور بوځي. ډاکټر اشرف غني احمد زي د ګوند د پلاوي تود هرکلی وکړ او د هیواد لپاره یې د افغان ملت مترقي ګوند پرله پسې قربانیانې وستایلې.

ښاغلي ډاکټر اشرف غني احمد زي زیاته کړه چې دی د قدرت لپاره نه بلکه د خدمت لپاره دریدلی دی. د بریا په صورت کې بې د خپل هراړخیز پروګرام اساسي ټکي په مفصل ډول تشریح کړل. ښاغلي ډاکټر اشرف غني احمد زي وویل چې په هیواد کې سوله او ثبات راوستل د ده په اولیت کې قرار لري . ده وویل چې په تیرو دیرشو کلونو کې د هیواد اقتصاد ته نږدې ۲۴۰ ملیارده ډالره تاوان رسیدلی دی او ددې بیا رغونه د راتلونکي قیادت لپاره ستره ننګونه ده.

ښاغلي ډاکټر اشرف غني احمد زي وویل چې د هیواد په تاریخ کې به دا اول ځل وي چې په سوله ایزه او دیموکراتیکه توګه به قدرت د یو ولسمشر نه بل ولسمشر ته انتقالیږي. د یادونې وړ ده چې افغان ملت ملي مترقي ګوند به په نږدې راتلونکي کې د ولسمشریزو ټاکنو په اړه خپل دریځ څرګند کړي.


## د افغان ملت ملي جریده

د تاسیس نیټه: ۱۳۴۵ لمریز کال
د ګوند موسس: دیپلوم انجینیر غلام محمد فرهاد
د ګوند رییس: دیپلوم انجینیر اجمل شمس
عمومي منشي: وصلي خان ملاخیل
د امتیاز خاوند: د افغان ملت ملي مترقي ګوند
چلوونکی: فرهنګي کمیته
د ټیلیفون شمیره: ۰۷۹۵۹۵۹۴۹۳
د پوستي ادرس: پست بکس ۵۵۹۵ کابل افغانستان

**Afghanistan Social Democratic Party**
Founded by: Eng. Ghulam Mohammad Farhad (1966)
President: Eng. Ajmal Shams
Postal address: PO Box 5595, Kabul, Afghanistan
Tel: +93 (0) 795-959-493
E-mail: info@afghanmillat.org , afghanmillat@gmail.com
Website: www.afghanmillat.org

د افغان ملت ملي جریده یواځې د سرلیکنې مسؤولیت لري . نوری لیکنې د لیکوالو پورې اړه لري .